دين نصيحت دی

د ابو رقيه تميم بن أَوْسٍ الدَّارِيِّ رضي الله عنه نه روايت دی، چې نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "دين نصيحت دی" مونږ وويل: د چا لپاره؟ هغه وفرمايل: "د الله لپاره، د هغه د کتاب لپاره، د هغه د رسول لپاره، د مسلمانو چارواکو او د دوی عامو خلکو ته".

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

نبي صلى الله عليه وسلم خبر ورکړی چې دين د اخلاص او رښتينولۍ پر بنسټ ولاړ دی، تر دې چې د الله له لوري لکه څنګه چې فرض شوی، په پوره ډول، بې له نېمګړتيا او دوکې کولو ادا شي. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل شول چې: نصيحت چا ته وي؟ هغه وفرمايل: لومړی: نصيحت د الله سبحانه وتعالى لپاره، چې عمل ورته په اخلاص سره وکړو، شريک ورسره ونه نيسو، د هغه په ربوبيت، الوهيت، اسماء او صفاتو ايمان ولرو، د هغه امر لوی وبولو، او خلکو ته بلنه ورکړو چې ايمان پرې راوړي. دويم: د هغه د کتاب په اړه نصيحت چې قرآن کريم دی چې ايمان پرې ولرو او دا چې د الله جل جلاله کلام او د هغه وروستی کتاب دی، او دا چې دی د ټولو مخکښيو شريعتونو لپاره ناسخ دی، او درناوی يې وکړو، او په حقه يې تلاوت کړو، محکم حکمونه يې عملي کړو او په متشابهو آيتونو يې ايمان ولرو، د تحريف کوونکو تاويلات يې رد کړو، له وعظونو څخه يې عبرت واخلو، علوم يې خپاره کړو او خلکو ته يې (د منلو) بلنه ورکړو. دريم: زمونږ د رسول محمد صلى الله عليه وسلم په اړه نصيحت چې عقيده ولرو هغه د ټولو رسولانو وروستی دی او په هغه څه کې يې ريښتونی وګڼو چې مونږ ته يې راوړي دي، امر يې عملي کړو او له هغه څه نه منع شو چې هغه ترې منع کړې ده، او دا چې د الله تعالى عبادت ونه کړو مګر په هغه طريقه چې هغه راوړې ده، حق يې لوی وګڼو، درناوی يې وکړو، بلنه يې خپره کړو، شريعت يې خپور کړو او د تورونو او تهمتونو پر وړاندې يې دفاع وکړو. څلورم: د مسلمانانو امامانو (واکمنانو) لپاره نصيحت چې په حق کې يې ملاتړ وشي، د واک پر سر ورسره شخړه ونه شي او دا چې د الله تعالى د اطاعت په چوکاټ کې يې اطاعت وشي او غوږ ورته ونيول شي. پنځم: د مسلمانانو لپاره نصيحت چې نيکي ورسره وشي او بلنه ورکړل شي، د ضرر مخنيوی ترې وشي او هغوی ته ښېګڼه رسول ښه وګڼل شي او په نيکۍ او تقوا کې ورسره مرسته کول.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66516

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee